SHARIAT WEEKLY
شریعت
اوونیزه
په اوونی کي دوه ځله خپریږی
دافغانستان د اسلامی امارت مرکزی نشراتی ارگان
پنځم کال اته دیرشمه گڼه پرله پسی (۳۲۵) چهارشنبه د۱٤۲۱هـ ق کال د صفرالمظفر (۲۰)د۱۳۷۹هـ ش کال د غبرگولی (٤)د۲۰۰۰میلادي کال د مي (۲٤)

د معلم د ورځی په مناسبت د ریاست الوزراء د پیغام په ترځ کی :

د افغانستان اسلامی امارت د پوهنی په ډگر کی هیڅ راز هلی ځلی ندی سپمولی

د استاد ورځ پرون د پوهنی وزارت لخوا د یوی شانداری غونډی په ترځ کی ولمانځل شوه .

غونډه د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو ایتونو په لوستلو سره پیل او وروسته د افغانستان د اسلامی امارت د ریاست الوزراء هغه پیغام چی له همدی امله صادر شوی و د ریاست الوزراء د مطبوعاتی دفتر د رئیس محترم مولوی عبدالسلام مسلم له خوا ولوستل شو چی ددغه پیغام په یوه برخه کی ویل شویدی : تعلیم او تعلم دوه کلمی دی چی په الهی لومړنی وحی کی وریاندی ټینگار شویدی او بنده گان یی د هغو زده کړی او تر لاسه کولو ته هڅولی دی .

په پیغام کی زیاته شویده چی د افغانستان اسلامی امارت ددغه امارت د جوړیدو له لومړیو ورځو څخه تر اوسه پوری په ټولو برخو او په تیره بیا د پوهنی په ډگر کی له هیڅ راز هلو ٤ مخ

الهی فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډیر نږدي دی تقوا (پرهیزگاری) ته .
(سورة المائدة)

توجه !

ایمان شما اجازه نخواهد داد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را بی حرمتي بگذارید.

د کمونست گوند مشر ولادیمیر زیگانوف

پر افغانستان د گذارونو نظریه بی مسؤولیته او د روسی مشرتابه لپاره سپکوونکی ده

کریملین ته داسی خلک را روان دی چی له خپل اولس نه نیولی تر گاونډیو پوری له هر چا سره جگړو ته چمتو دی

د کریملین د مطبوعاتی ویاند څرگندونی په بشپړه توگه له بی واکی نه ډکی دی

تیره ورځ د روسی چارواکی پوتین یوه ویاند وویل چی که نور هم دافغانستان اسلامی امارت له چیچنیایی مجاهدینو سره خپلو مرستو ته دوام ورکړی نو دا احتمال لری ندي چی په افغانستان کی د اسلامی امارت تر کنټرول لاندی سیمی به د روسیي تر پوځی گذارونو لاندی ونیول شی.

د کریملین د ویاند دغه خبری په روسیه کی د ډیرو سیاسی چارواکو لخوا تر سختی نیوکی لاندی راغلی په روسیه کی د کمونست گوند مشر ولادمیر زیگانوف په دی اړه وایی : پر افغانستان د گذارونو نظریه بی مسؤولیته او د روسی مشرتابه لپاره بیخی ٤ مخ

در ملاقات سفرای امارت اسلامی و جمهوری ترکمنستان مقیم اسلام آباد :

روی ایجاد پروژه های اقتصادی مشترک صحبت بعمل آمد

محترم مولوی سید محمد حقانی سفیر ا.ا.ا در کشور جمهوری اسلامی پاکستان دیروز با سفرای کشور های ترکمنستان و سودان مقیم اسلام آباد طور جداگانه ملاقات نمود.

آژانس اطلاعاتی باختر از شهر اسلام آباد خبر داد : در ملاقات با محترم بردی نیازوف سفیر کشور ترکمنستان در اسلام آباد در مورد موضوعات طرف علاقه دو کشور و به خصوص ایجاد پروژه های اقتصادی مشترک میان کشور افغانستان، ترکمنستان و پاکستان بحث و تبادل نظر صورت گرفت . سفیر کشور ترکمنستان مقیم اسلام اباد در مورد موقف بی طرفانه کشور اش کمافی السابق در مورد مسایل افغانستان یك بار دیگر تاکید ورزیده و در باره سفر مختصر و کوتاه اخیر الکساندر پوتین ص ٤

روسان اوس هم له مسعود سره نږدی اړیکی لری

انوارالحق احدی د سیاسی علومو کارپوه :

ښاغلی انوارالحق احدی د بی بی سی راډیو د خبریال ددی پوښتنی په ځواب کی چی که روسان وغواړی په افغانستان کی دننه پوځی عملیات ترسره ص ٤

په هیواد کی د فرهنگی فعالیتونو په دوام :

د بغلان ولایت کتابتون بیا فعال شو

په هیواد کی د فرهنگی او علمی فعالیتونو د پراختیا په دوام د بغلان ولایت عامه کتابتون بیا فعال او د کتاب د مینه والو د استفادی ور وگرځید.

د بغلان له ولایت نه د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ د بغلان والی محترم ملا عبدالجبار عمری ددغه ولایت د عامه ٤ مخ

فعلاً نفوس کشور ۲۳ ملیون نفر میباشد

نفوس کشور ۲۱ سال قبل (۱۳۰۵۱۳۵۸) نفر بود

ولایت کابل دارای (۱۷۸۰۰۱۲) نفوس است

اداره مرکزي احصائیه یك اداره مستقل در چوکات ریاست الوزراء ا.ا.ا بوده که در صدر وظایف آن سرشماري نفوس، تجزیه، تحلیل و جمع آوري و اعداد و ارقام احصائیوي در ابعاد اقتصادي و اجتماعي کشور قرار دارد. از آنجائیکه زیربناي هر پلان انکشافي را اعداد و ارقام تشکیل داده است و بدون سروي دقیق نمیتوان پروژه را ص ۲

د پکتیک اداره په افغانستان کی:

د هوایی چلند او توریزم له وزارت سره همکاری کوی

د بهرنیو چارو وزارت معین محترم ملا عبدالرحمن زاهد پرون د پکتیک اداری له سیمه ییز رئیس ښاغلی دنیس فولټون سره چی په دی وروستیو وختو کی د یوه هیأت په مشری کابل ته راغلی دی وکتل.

د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ ددغی کتنی په بهیر کی پداسی ٤ مخ

دور اول مسابقات فتبال کابل - کویته به نفع کابل انجام یافت

ورزشکاران افغانی با امکانات کم خیلی ها موفق هستند

عبدالخالق یکتن از اعضای تیم فتبال مسلم کویته - پاکستان

شریعت : اخیراً تیم شناخته شده فتبال «مسلم» مربوط کویته پاکستان غرض انجام یك سلسله مسابقات دوستانه وارد کابل شده است.

اولین مسابقه این تیم عصر دوشنبه مورخ ۱٤۲۱/۲/۱۸ با جانب ص ٤

محترم فیض احمد فیض له امریکا غږ راډیو سره په مرکه کي :

اسلامی امارت له چیچنیایی مجاهدینو سره یوازی اخلاقی مرستی کړیدی

د روسیی ویاند ادعا کړیده چی اسلامی امارت د چیچنیا مجاهدینو ته پوځی زده کړی او وسلی ورکوی او په دی باره کی یی یوه موافقه ورسره لاسلیک کړیده.

په دی وینا باندی د روسیی ځینو سیاستمدارانو انتقادونه کړیدی د روسیی پارلمان د نمایندگانو دجرگی کمونست رئیس ویلی دی چی حکومت دی خبر داری ورکولو کی ډیره بیړه کړیده . په ٤ مخ

د پکتیا په ولایت کی :

څلور هکتاره ځمکه د بنگو له بوټو څخه پاکه شوه

د پکتیا ولایت د سید کرم ولسوالی په مربوطاتو کی څلور هکتاره ځمکه د بنگو له بوټو څخه پاکه شوه .

د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ د سید کرم ولسوالی د امنیه قوماندانی او د امر بالمعروف او نهی عن المنکر د مؤظفینو د گڼو هلو ځلو له امله په دی وروستیو وختو کی څلور هکتاره ځمکه د بنگو له بوټو څخه پاکه شوه او د سیمی کروندگر د چارواکو لخوا د مخدره موادو ناوړو پایلو ته متوجه کړای شول او له هغوی څخه وغوښتل شول چی د بنگو د بوټو د کرنی پر ځای د گټورو بوټو او د خوراکی موادو په کرکیله اقدام وکړی.

د کابل ښار پر بیوزلو باندی مرستی وویشل شوی

په تیرو درېو ورځو کی څه د پاسه لس زره کیلو گرامه غوری د مرستی په ډول د کابل ښار په یو شمیر بی وزلو او مستحقو ښاریانو باندی ویشل شویدی. ٤ مخ

د سرپل په ولایت کی :

د اوبو د بریښنا یوه دستگاه فعاله شوه

د اوه سوه پنځوس کیلوواټو په ظرفیت د اوبو د بریښنا د تولید دستگاه د جوړولو کار پرون د سرپل ولایت په مربوطاتو کی پیل شو . د سرپل له ٤ مخ

د قزاقستان د امنیتی چارواکو لخوا :

د تاجکستان د سفیر په موټر کی هیروئین ونیول شول

د امریکا غږ : د قزاقستان د امنیتی چارو مامورینو په هغه هیواد کی د تاجکستان د سفیر په یو موټر کی د څه د پاسه یو ملیون ډالرو په ارزښت هیروئین پیدا کړیدی.

دغه مامورین وایی چی ددغه موټر او ورسره د بل موټر په تالاشی کی څلور پنځوس زره ډالره نقد او ددوه ملیون ډالرو یو چک پیدا شویدی.

د مامورینو په قول د سفارت یو لوړ رتبه مامور د سفیر په موټر کی خپله میرمن تاجکستان ته بیلولی وه .

د مخدره موادو قاچاق په جرم کی پنځه تنه نیول شویدی، خو دا نه ده معلومه چی دوی د سفارت غړی دی او که ٤ مخ

کلینیک حمایه، طفل و مادر خواجه بغرا دارای شش سرویس فعال میباشد

کلینیک حمایه ، طفل و مادر خواجه بغراي خیرخانه براي بار نخست در ماه ثور سال ۱۳۷٦ به کوشش و همدردي ریاست حمایه طفل و مادر وزارت صحت عامه ا.ا.ا و به کمك مادي موسسه MDN جهت خدمات بیشتر براي مادران ص۲

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

د روسی گواښونو تر شا د چالاسونه دی ؟

تیره ورځ د ....ی د نوی جمهور رئیس پوتین ځانگړی ویندوی دا خبره په ډاگه څرگنده کړه چی روسیه په افغانستان باندی د هوایی برغلونو احتمال نه ردوی او دا ځکه چی افغانان لا هماغسی د چیچن د مجاهدینو ملاتړ کوی او هغوی سره یی د وسلو او مهماتو د رسولو یو نوی ترون کړی دی.

مونږ تر هر څه مخکی دا خبره په کلکه ردوو چی گنی د چیچن د مجاهدینو سره پوځی مرستی کوو. یو خو له دی کبله چی چیچنیایی مجاهدین په خپله هم ښه په وسلو سنبال دی او د روسانو دومره ډیپوگانی ورته پاتی دی چی تر ډیره وخته یی بس کیږی هغوی یواځی او یواځی مالی مرستو ته اړتیا لری چی باید ټول نړی شتمن مسلمانان یی ورسره وکړی، او بل دا چی که ۲ مخ

فعالیت های محاکم ولایت فراه بررسی گردید

آژانس اطلاعاتی باختر خبر میدهد : هیأت بلند پایه ستره محکمه تحت سرپرستی محترم مولوی میر حبیب آغا مشاور مقام ستره محکمه که در ترکیب آن علمای جید و قضات ورزیده ستره محکمه شامل هیأت با صلاحیت و عالیرتبه ستره محکمه ا.ا.ا از محاکم مرکز ولایت فراه و محاکم ولسوالی های گلستان ، فراه رود و بکواه آنولایت بازدید و بررسی دقیق و همه جانبه بعمل آوردند. ص ٤

در جنوب لبنان :

۱۵۰ تن زندانیان از بند آزاد گردیدند

بدنبال آغاز خروج قوای اسرائیل از برخی مناطق اشغالی جنوب لبنان اسرائیل دیروز تمام یصکدو پنجاه زندانی را از یك زندان که تا هنوز در جنوب لبنان تحت اشغال اسرائیل است آزاد کرد. به گفته منابع خبری بین المللی اسرائیل اکنون دو بر سوم مناطق اشغالی در جنوب لبنان را از وجود عساکر خود تخلیه کرده است.

شریعت

دتاسیس کال : ١٣٧٤ هـ ش

: د لیکوال هینت ترنظر لاندې

مسؤول مدیر : عبدالرحیم «ثاقب»

مرستیال : غلام محمد «فاروق»

دیوې گڼې بیه : په هیواد کې (١٠٠٠) افغانی په پاکستان کی (٣) کلداری

پست بکس : (٤٧١) کابل - افغانستان تیلفون : ٢١٣٨١

توزیع او شکایات : ٦٢٨٥٩

جاري حساب : $\frac{٤٠٣٨٥}{٧}$ د افغانستان بانك مرکز

چاپ : امارتي مطبعه

د سرمقالی پاتی برخه

هغوی څه اړتیا هم ولری له بده مرغه موږ په داسی حالت کی یو چی د کمزورو مسلمانانو د لاس نیونی هیڅ وس نه لرو ، زموږ خپل هیواد د روسانو د ظالمانه یرغل په نتیجه کی لوټه لوټه او په کنډوالو بدل شوی ، اقتصادی زېرمی مو له منځه تللی او نظامی او اجتماعی بنسټونه موږ بدلی او دومره زیان یی لیدلی چی په ډیره اوږده زمانه کی یی هم بیرته ودانول گران ښکاری اوس موږ همدا د خپل ویجاړ هیواد په بیا جوړولو بوخت یو او نورو نړی والو چارو ته څه لاس نه شو ورغځولای او دا خو یو ښکاره حقیقت دی چی نه موږ او نه نور نړی وال سترگی وربandی پټولای شی ټول ښه پوهیږی چی افغانان د دوو لسیزو جگړو له لاسه څومره کړیدلی او لا تر اوسه د همدغو روسانو په مستقیمه لاس وهنه زموږ هیواد د کورنی جگړی په اور کی سوځی او روسان او ملگری یی پر له پسی دی اورته خس او خاشاک راچلوی او لمن ورته وهی نو هر کله چی له یوی خوا د روسانو د پخوانی یرغل نه ځوریدلی یو او له بلی خوا اوس هم د پردی لاس وهنی په جگړو کی راښکیل یو نو څنگه به له نورو سره مرسته وکړو او دوهم حقیقت دا دی چی که موږ افغانان خدای وسی کړو او کورنی ستونزی مو حل او پردی لاسونه مو لنډ کړل نو تر هر څه مخکی باید له روسانو د جگړی تاوان وغواړو او نغد یی تری واخلو ، دا زموږ یو قانونی او نړی وال حق دی چی لا تر اوسه روسانو چی د پخوانی شوروی اتحاد په ځای ناست دی سترگی ورباندی پټی کړی او افغانان به هیڅکله له دی حقه تیر نه شی او انشاء الله یوه ورځ به یی ښه په نره تری واخلی.

دریم حقیقت دا دی چی روسانو ته هم د افغانانو د ایمان زور ښه معلوم دی او هیڅکله به دی ته زړه ښه نه کړی چی د زمرو په دی ځاله بیا وبلوسیږی ، دوی هم د افغانستان جگړی داسی ورک او سپک کړل چی بیا به هغسی د وران په خوب هم ونه وینی ، خو اوسنی گواښونه یی د بل چا په زور ولاړ دی ، دوی وینی چی لویدیځ هیوادونو او ملگرو ملتونو ټولو د افغانستان په ورکی پسی را اخیستی ده نو غواړی چی ځان له هغو سره مل وښیی او یا په دی ډول د هغوی په وړاندی خپل جواری پریړ کړی او څه مالی مرستی تر لاسه کړی همدارنگه ددغو اخطارونو او گواښونو په واسطه په افغانستان کی هم خپلو نوکرانو ته داډ ورکوی چی هسی نه ټول وتښتی او میدان تش پریږدی او د مرکزی آسیا ځینې گوډاگی رژیمونه هم لږ تکیه کړی او په سیمه کی د خپلی لاس وهنی لپاره یو څو شپی نور مهلت تر لاسه کړی .

خو بیا هم له دی ټولو خبرو سره سره څلورم حقیقت دا دی چی له بده مرغه زموږ یو شمیر پردو پاللی ډلی د روسانو په خدمت لگیا دی ، د هغوی ځیری ته ناست دی او له روسانو وسلی او مهمات راوړی او خپل هیوادوال ورباندی وژنی او لاری پلونه ړنگوی او په دوی کی خو زیاتره هماغه پخوانی ملیشی دی چی کلونه کلونه یی د روسانو چوپړ کړی او د هغوی په کاسه لوی شوی اوس هم د روسانو قوماندی ته لک ناست دی او که د هیواد او ملت په وړاندی هر څومره لوی خیانت وی ، دوی یی د روسانو د خوښی لپاره په منډه تر سره کوی او د افغانانو د هغه جهاد هیڅ قدر او ارزښت نه پیژنی چی د روسانو په مقابل کی یی څومره بچیان شهیدان او څومره معیوب شول؟ او له هغو کونډو او یتیمانو هم نه شرمیږی چی د گران هیواد د خپلواکی او پت ساتلو په ډگر کی یی خپل خاوندان او پلرونه قربانی شول ، خو په هر صورت روسان دی په دی وپوهیږی چی که په دغو پلمو ځان ته کوم دلیل پیدا کوی او په افغانستان باندی یی څه یرغل ته زړه وی ، نو هیڅکله به گټه ونه کړی ، دا تجربه روسانو مخکی هم کړی ده او پایلی یی لیدلی دی چی څنگه یی هم نوکران خوار و زار شول او هم دوی ایله په تیښته خلاص شول نو اوس خو روسان هیڅ هم نه شی کولای او که چا نوکرانو او مزدورانو ته یی هیله وی نو ان شاء الله هغه ورځ لری نه ده چی د هغوی تغر هم ورټول شی او بیا به ټول یو ځای په مسکو کی ورسره ناست وی ، اوس ټولو افغانانو ته ښه څرگنده شوی چی باید پردی لاسونه لنډ او د اسلامی امارت تر سیوری لاندی د خپل هیواد په بیا ودانولو کی برخمن شی او دا چی نور د جگړی لپاره هیڅ کوم دلیل نشته او دا جگړه بوازی او بوازی د روسانو په قوماندهاو د هغوی په گټه ده او بس.

زموږ تعلیمي نظام ته یوه کتنه

فاروق

تیره میلادی پیړی چی د ډیرو ولسونو د پرمختگ او ترقی پیړی بلل کیږی او د نړی بیلا بیلو ملتونو د پرمختگ په لور ښه چټک گامونه پکی اخیستی او ځینی خوبی د طبیعی علومو او بشری تجربو په ډگر کی دومره په مخ تللی چی اوس یی د خپلی علمی او ساینسی ترقی په زور د نړی یوه زیاته برخه عملاً د تجارتی استعمار لاندی راوستلی ده او وروسته پاتی هیوادونه که په هر ډول وغواړی چی د هغوی ددی تسلط نه ځان وباسی ، بیا هم نه شی کولای او خامخا به په یو ډول د هغوی په تابعیت اړ وی او دا هم یو څرگند حقیقت دی چی ددغه جادوگر پر مختگ تر شا یوازی او یوازی همدغه د طبیعی او بشری علومو په ډگر کی د اړوندو ولسونو نه ستړی کیدونکی هلی ځلی دی چی ویی کولای شول د یو لړ غلطو او بی دلیله انگیرنو پر ځای خپل عقلونه د علمی او عملی تجربو په لاره کی استعمال او په دی برخه کی نوی نوی پر مختگونه وکړی هغوی د بی گټو فلسفی بحثونو ځای د ژوند او کائناتو عملی تجربو ته ورکړ او خپلی ټولی څیړنی یی د ماوراء الطبیعت په هکله د مختلفو جدلیاتی نظریو په ځای خپل چاپیریال او موجود و کائناتو ته یو مخیزی کړی او د طبیعت په غیږ کی دومره وړاندی ننوتل چی په سل گونو او زرگونو تکوینی قواعد یی کشف او داسی اسرار یی راوسپړل چی ریښتیا هم انسان ته ددی ټولو کائناتو د مسخر کیدو زیری یی درلود او لا ښه په ډاگه شوه چی انسان څنگه ددی گرد طبیعت نه د خپل ځان لپاره کار واخلی او هغه اسرار یی ځان ته معلوم کړل چی ریښتیا هم دا هر څه د بشر د گټی لپاره پیدا دی او که له اسلامی نظره ورته وگورو نو په دغو څیړنو او لاس ته راغلو نتیجو کی د الله تعالیٰ د عظمت او بی مثاله قدرت څومره نښانی دی ؟ او همدا وجه ده چی الله عزوجل هم په خپل مقدس کلام کی ځای په ځای انسانانو ته بلنه ورکړی چی د کائناتو په دی ویره هستی کی ډیر فکر او غور وکړی تر څو د الله عزوجل د حقانیت دلایل نور هم ورته روښانه او ایمانونه یی لا ښه محکم شی.

خو له بده مرغه غیر اسلامی ټولنو په دی هکله څیړنی وکړی او نتیجی یی هم د خپلی خوښی سره سم تعبیر کړی چی د الله تعالی د لوی قدرت او حکمت لور ته یی هیڅ اشاره ونه کړه او اسلامی ټولنی بیا له سره په دی ډگر کی وروسته پاتی شوی او خپله ټوله پاملرنه یی د افلاطون او سقراط فلسفی او منطقی بحثونو ته وروگرځوله ، مدرسی هم ددغو بی گټو تاندریو په مرکزونو واوښتی او عالمانو هم خپل ټول استعداد په دغي لاره کی ضایع کړ نو اوس که ریښتیا سره ووایو په مسلمانو ملتونو کی هم یو څه بدلون خوراغلی او د طبیعی علومو په هکله خو په تیټ کچ څیړنی شوی او څه نتیجی یی هم لاس ته راوړی خو له بده مرغه زموږ گران هیواد په دی ډگر کی دومره وروسته پاتی دی چی تقریباً یی جوړی به وی موږ لا تر اوسه هم د هماغو فلسفی او منطقی بحثونو په شوق اخته یو ، علمی مرکزونه مو هم یوازی په همدغو تدریساتو تمرکز لری او د علم او پوهی معیار مو هم لا د همدغو فلسفی او منطقی تعلیماتو په بنسټ ولاړ دی ، یعنی که څوک په منطق او فلسفه کی مهارت ولری نو عالم دی او که نه یی لری نو نه دی او همداسی که چیرته په پراخه توگه ددغو علومو تعلیم او تدریس کیږی نو هغه مدرسه بیا مدرسه ده او کنه نو هیڅ هم نه ده ،

همدارنگه ان د ځینو مسلکی کارو لپاره مو هم د منطق او فلسفی تعلیمات معیار ټاکلی دی که د عربی ژبی او ادب استاد مو په کار وی هم باید منطق او فلسفه یی لوستلی وی او که د حدیث او تفسیر استاد ته ضرورت وی بیا هم فیلسوف په کار دی. خو په هر صورت کی په دی هکله غور وکړو او نتایج وگورو نو په خپله به راته څرگنده شی چی موږ له دې ډول تعلیم او تدریس څخه ډیری کمی لاس ته راوړنی لرو ، که یو طالب العلم په تفسیر او حدیث کی ډیره هڅه او هلی ځلی وکړی خو د الله عزوجل د لوی کتاب په مقصد او مراد به ډیر ښه وپوهیږی او په اسلامي نړی کی هم چی کومو علماو په دی برخه کی کوشش کړی اوس ډیر ښه تصنیفات تری پاتی او د خپل دین په خپرولو کی یی ډیره اغیزه درلودلی ده او که چا په طبیعی او بشری علومو کی هڅه کړی نو اوس ډیر ښه گټور وسایل تری پاتی دی او دا دی ټول انسانان په خپل ورځنی ژوند کی کار تری اخلی او د خپلو مقاصدو لپاره یی استعمالوی - ښه نو وگورو چی د افلاطون څخه راپیولی بیا تراوسه ددغو فلسفی تعلیماتو نه څه جوړ شوی او د بشر په عملی ژوند کی یی څه اغیزی وینو ؟ څرگنده ده چی ځواب منفی او هغه وختونه چی په دی لار کی مو لگولی عبث تللی ، حقیقت دا دی چی دا ډول تعلیمی نظام چی زموږ د دینی ، تاریخی ، اجتماعی اوژوندانه د ضرورتونو بشپړوونکی نه وی ، بیخی ناکام او موږ به د پرمختگ او ترقی له کاروانه نور هم ډیر وروسته پاتی کړی ، نو راځی چی په خپل تعلیمی نظام او درسی نصاب له سره غور وکړو بی ځایه تعصب یوی خواته کړو او د عقل او استدلال په زور پر مخ ولاړ شو او خپله گټه او تاوان وسنجوو .

کلینیک حمایهء طفل و مادر خواجه بغرا داراي ...

و اطفال ایجاد گردیده است قابل یاد آوري است که اکمالات این کلینیك را از ماه میزان ١٣٧٨ بدین سو وزارت صحت عامه ا.ا.ا و موسسهٔ MSF بدوش دارد .

خبرنگار ما جهت معلومات بیشتر خواهران و مادران با مسؤول و چند تن از پرسونل صحي این کلینیك مصاحبه هاي انجام داده که توجه شما عزیزان را به خوانش آن جلب میداریم.

در آغاز محترمه دوکتورس خدیجه «مصباح وزیري» آمره کلینیك حمایه طفل و مادر خواجه بغراي خیرخانه در مورد کلینیك متذکره چنین معلومات ارائه نمودند : کلینیك حمایه، طفل و مادر خواجه بغراي خیرخانه داراي شش سرویس فعال مي باشد که عبارت از شعبه، اطفال ، شعبه نسایي و ولادي، شعبه، تبلیغات صحي، شعبه پانسمان، اتاق واکسیناسیون و دواخانه میباشد. باید متذکر شد که ادویه کافي از جانب موسسهٔ MSF به دسترس این کلینیك قرار داده شده است و همه روزه از جانب دوا ئانه مطابق نسخه داکتر مؤظف براي مریضان ادویه بصورت مجاني توزیع میشود. در شعبه، اطفال روزانه در حدود ٤٥-٥٠ مریض مراجعه مي نماید که بیشترین مریضان را امراض ریزش، سینه و بغل و اسهالات تشکیل میدهد .

باید خاطر نشان ساخت که منبعد هوا رو به گرمي است باید مادران فوق العاده متوجه نظافت تغذیه اطفال خویش باشند زیرا بیشترین عامل اسهالات را عدم توجه مادران به حفظ الصحه خانوادگي و محیطي ایشان تشکیل میدهد. در اتاق اطفال یك داکتر و یك نرس مصروف معاینه و تداوي اطفال مي باشند که در این اتاق قد و وزن اطفال اندازه شده و نظر به سن شان محاسبه مي گردد و براي اطفال از جانب شخص موظف کارت توزیع میشود در شعبه اطفال دو نوع کارت تعین شده یکي کارت براي نوزادان الي سن سه سالگي و دیگر براي اطفال از سن سه ساله به بالا ، مادران میتوانند با استفاده از کارت متذکره همیشه اطفال شان را جهت معاینه و تداوي به این کلینیك بیاورند . و نسخه و دوا لازم را اخذ نمایند. قابل یاد آوري است که یك تعداد اطفال ضعیف و سؤ تغذي و مادران کم شیر جهت کمك به خاطر اخذ مواد سؤ تغذي به کلینیك پروژه جدید خیرخانه از جانب کلینیك ما معرفي مي گردند.

دوکتورس خدیجه آمره کلینیك در رابطه به اتاق واکسیناسیون چنین اظهار داشتند : شعبه واکسین داراي واکسین هاي تیتانوس براي خواهران و مادران از سن ١٤-٤٥ ساله و واکسین شش گانه براي نوزادان و اطفال در دوره طفولیت مي باشد ، مراجعه کنندگان این شعبه را روزانه ١٥-٢٠ تن تشکیل میدهد.

محترمه دکتورس مزاري یوسف زاده در رابطه به شعبه نسایي و ولادي کلینیك متذکره چنین معلومات ارائه نمودند : در شعبه نسایي و ولادي مادران از آغاز حمل الي ختم در هر ماه با تعیین وزن، قد و فشار خون مورد معاینه و تداوي قرار مي گیرند روزانه به تعداد ٤٠-٥٠ مریض به این شعبه مراجعه مینمایند.

محترمه معصومه در مورد اتاق پانسمان به خبرنگار ما چنین گفتند : روزانه تنها تعداد مریضان ما را ده الي پانزده مریض تشکیل میدهد اکثریت این مریضان را سوختگي ها، جروحات ، پانسمان و زرقیات تشکیل میدهد .

محترمه گلالي صدیقي مبلغ صحي به خبرنگار ما چنین گفتند : همه روزه از جانب اتاق تبلیغات صحي این کلینیك تبلیغات صحي براي مادران پیرامون موضوعات مختلف چون مزایاي شیر مادر ، امراض طرق تنفسي، طرز مراقبت از نوزادان ، نظافت مزایاي واکسین، مزایاي پشه خانه، طرز نگهداري از غذا ، مضریت هاي کثافت روي حویلي و کوچه هاي نزدیك خانه، منشأ اسهالات و غیره مطالب تبلیغات صورت مي گیرد.

خبرنگار ما فرصت را مغتنم شمرده با یك تن از مراجعین این کلینیك نیز صحبت نموده که خواهر نوراني باشنده خیرخانه مینه در جواب به پرسش خبرنگار ما چنین گفتند : من همیشه جهت تداوي خود و اطفالم به همین کلینیك که نزدیك خانه ما است مراجعه مي نمایم داکتران و اعضاي کلینیك فوق العاده رویه، نیك دارند من همیشه نسخه و ادویه را مجاني اخذ نموده ام ، ما از توجه وزارت صحت عامه سپاسگذاریم که در هر منطقه شهر یك کلینیك حمایه طفل و مادر را طور رایگان ایجاد نموده است.

تهیه کننده : سلطانه «ایوبي»

فعلاً نفوس کشور ٢٣ ملیون ...

تهداب گذاشت و بهره برداري کرد؛ روي همین اصل اداره مرکزي احصائیه یگانه مرجع سروي کننده در سطح کشور بوده و بدون همکاري و همآهنگي این اداره هیچ موسسهٔ داخلي و خارجي نمیتواند که سروي مستقلانه در امورات کاري خویش انجام بدهد .

به هر منوال ! خبرنگار ما در رابطه به آمار فعلي نفوس کشور مصاحبه، را با محترم مولوي حسین احمد سرپرست این اداره انجام داده است که شما عزیزان را به خوانش آن فرا میخوانیم :

در رابطه به آخرین سرشماري نفوس کشور محترم مولوي حسین احمد چنین اذعان داشت : آخرین سرشماري نفوس کشور در سال ١٣٥٨ هـ ش به کمك مالي اداره ملل متحد صورت گرفت که نفوس کشور (١٣٠٥١٣٥٨) نفر به تفکیك (٦٧١٢٣٧٩) نفر ذکور و (٦٣٣٨٩٠١) نفر اناث ارزیابی شد.

وي در پاسخ به این سوال که آیا در قسمت سرشماري نفوس یك کشور از جانب ملل متحد کدام نورم پذیرفته شده جهاني تثبیت میباشد یا خیر ؟ چنین اشاره نمود : بلي! نورم تثبیت است. مطابق نورم بین المللي احصائیه، باید بین هر ده سال یکبار نفوس یك کشور سروي و سرشماري گردد. وقتي از محترم مولوي حسین احمد پرسیده شد که نقش شما در پروگرام هاي سروي مؤسسات غیر حکومتي NGO و سازمان هاي خیریه بین المللي در کشور تا چه اندازه تعیین کننده است ؟ وي در مورد چنین اظهار داشت : حکم صریح ریاست الوزرا ، در همین رابطه صدور یافته که بدون همکاري و تفاهم اداره

ص ٤

آیا پیمان تحدید سلاح های اتمي عملي خواهد شد؟

مجیب الرحمن

هفته گذشته پنج نیروي اتمي (امریکا، روسیه، بریتانیا، فرانسه و چین) در بیانیه مشترکي اعلان کردند تا از تمام سلاح هاي اتمي خویش را آزاد و رها سازند.

اینگونه فکر مي کني که این خبر تنها تو را مرعوب ساخته، نه بلکه بسیاري از هیئت ها و وفد هاي شرکت کننده در ششمین کنفرانس منع انتشار سلاح هاي اتمي که در امریکا منعقد شده بود نیز احساس نا رضایتي داشتند. بعد از گذشت ٣٢ سال از معاهده هاي ممنوعیت استفاده از سلاح هاي اتمي باز هم مي بینیم که این قرار داد ها و پیمان ها نقض گشته، چگونه ممکن است این تصمیم جدید عملي گردد ؟!

ایالات متحده امریکا هرگز نمي خواهد درین ایام دست از تولید و ساخت سلاح هاي هسته اي بردارد بلکه در مقابل روسیه را نیز تشویق به حفاظت و نگهداري بسیاري از سلاح هاي اتمي اش نموده است .

بنا بر اخبار دانشمندان فزیك کوانتم و مواد هسته اي ، مخالفین امریکا به روسیه اطمینان و تسلي داده اند که امریکا بودن هیچ إهمال و تهاوني به تعداد ١٥٠٠-٢٠٠٠ کلاهك هسته اي را در نظام موشکي خود نصب خواهد کرد و حتي روسیه را نیز در انجام این کار تشویق کرده، تا همیشه در حال آماده باش کامل باشد. در پیماني که در ژنیو بین روسیه و امریکا بسته شد روس ها پیشنهاد تخفیف کلاهك هاي هسته اي را که الآن تعداد شان د رنزد طرفین ١٥٠٠-٧٠٠٠ یا ٦٠٠٠ عدد مي رسد، دارند اما امریکایي ها بدون هیچ مدرك و سندي این خواسته شان را رد کردند.

اعلان امریکا مبني بر اینکه تصمیم دارد در آینده نه چندان دور خود را از سلاح هاي اتمي پاك سازد. اعلاني است دروغین این اخبار تنها و تنها هیأت هاي کشور هاي شرکت کننده در کنفراسن هاي اتمي را دچار اضطراب نموده و از تقدم و پیشرفت شان کاسته است. بعد از قرار داد ١٩٩٥ بر عکس مي بینیم تا کنون ١١٠٠٠ قطعه اتمي بر عدد سلاح هاي اتمي افزوده شده بنا بر اخبار موثق ٣٢٠٠٠ قطعه سلاح اتمي در جهان وجود داشته که امریکا و روسیه ٩٥٪ آن را به خود اختصاص داده اند آري وجود ٣٢٠٠٠ قطعات اتمي کار کوچکي نیست، اما با این حال امریکا روسیه را تشویق به این کار کرده به علت فروپاشي اتحاد جماهیر شوروي و مشکلات اقتصادي که بعد از آن گریبان گیر آن شده، و بیکار و معطل ماندن را رهاو اقمار مصنوعي این کشور، امریکا مي تواند از پیشرفت و ترقي روسیه مطلع گردد، چرا که امریکا زیر دریایي هاي ترایدنت دارد که بالاي هر کدام آن ١٩٢ کلاهك هسته اي نصب است، روسیه هرگز نمي تواند چنین چیز هایي را تهیه و در اختیار بگیرد لذا ارتش و لشکر روسیه بسیار بیمناك است.

دستگاههاي گیرنده و رادار هاي روسي به گونه اي بیکار و خراب شده اند که نتوانستند موشك هاي نیوروژي را که براي تحقیقات علمي ارسال شده بودند کشف و تشخیص دهند، بنا بر این اینگونه تفسیر کردند که یکي از موشك هاي ترایدنت امریکایي است که از یکي از زیر دریایي هاي امریکایي شلیك شده است.

رئیس جمهور سابق روسیه یلتسین فوراً جلسه اي فوق العاده تشکیل داد و تا هشت دقیقه خود را براي دفاع از موشك امریکایي آماده ساختند اما خوشبختانه در مدت ٢-٣ دقیقه سربازان روسي توانستند مسیر موشکي را که از روسیه دور مي شد تعیین نمایند اگر این مسأله بار دوم تکرار مي شد نتیجه بسیار وخیم مي گشت با وجود بیم امریکا و آمادگي اتمي آن جهت دفاع از حملات احتمالي کره شمالي به این کشور، روسیه تنها کشوري است که امروز و یا در آینده مي تواند با بسیاري از سلاح هاي اتمي خویش مواضع مهمي را در داخل امریکا هدف قرار دهد . اما کره، شمالي هیچ موشك بالستیکي را شلیك ننموده، مدت هاست که بعد از معاهده یي که با امریکا امضأ نموده از امتحان سلاح هاي هسته اي خود صرفنظر کرده است.

احتمال جنگ هاي اتمي در این سالها بسیار است و خطر استفاده از سلاح هاي هسته اي عمداً و سهواً یا اشتباهاً محسوس مي گردد چرا که روسیه با وجود ضعف نیرو هاي اطلاعاتي خویش قدرت کامل هسته اي را داراست اما امریکا خود را از این خطر حقیقي بي خبر ساخته، تنها از موشك غوري بیمناك است. مدت ها تلاش و کوشش لازم است تا امریکا موشك هاي بالستیك خود را که هنوز امتحان و آزمایش نشده و برد آن تعین نگشته است به مرحله اکمال برساند لذا اعلان ممنوع بودن استفاده از موشك هاي بالستیکي را نموده و مي نماید امریکا ١٣٢ ملیارد دالر براي روش هاي دفاع از موشك هاي بالستیك مصرف نموده، هزینه اي که تا کنون براي هیچ بر نامه اي به مقدار آن صرف نشده، و تا کنون موشك دفاعي را که در شمال دا کوتاه نصب کرده فقط و فقط براي حمایت از موشك مینوتیمان بوده و دلش به حال مردم نسوخته و نمي سوزد.

٣ د افغانستان په هکله د امریکې غلط سیاسي دریځ

عبدالقیوم «کوچي» له امریکا څخه

که چیری زه دلته په تروریزم څه ولیکم او تروریزم په امریکی کی وڅیړم خبره به اوږده شی. خو په لنډیز سره دا باید ووایم چی د امریکی په هر کلی ، ښار او ولایت کی تروریستان دومره ډیر دی چی په ټوله نړی کی ساری نلری. دلته په هر کلی او ښار کی زندانونه له تروریستانو څخه ډک دی. دلته حتی ماشومان په مدرسو کی د امریکی په گوټ گوټ کی یو د بل په وړاندی او هم د خپلو ښوونکو پر ضد په تروریستی کړو وړو لاس پوری کوی او هر کال په سل گونو ماشومان په مدرسو کی د ټوپکو او بمونو په چلولو نیول کیږی او بیا زندانونو ته لیږل کیږی. دا ځکه چی له یوی خوا دلته وسله ازاده ده او هر څوک کولای شی هر ډول وسله وپیری او بیا یی د خپلی خوښی سره سم پکار واچوی. له بلی خوا دلته اخلاقی او انسانی ارزښتونه تر پښو لاندی شوی او د هر څه معیار پیسی او شهوانی او شیطانی هوسونه دی دلته په امریکی کی ډیری ملیشیایی ډلی شته او په ښکاره ډول سره د وسلو تمرین کوی او د هری ډلی غړی په رنگارنگ وسلو سنبال شوی دی. د امریکی د دولت او د واکدارانو ستره ستونزه همدا ده چی نه له خپلو خلکو وسله ټولولی شی او نه داسی قوانین له پارلمان څخه تیرولی شی چی وسله په ازاد ډول ونه پلورل شی . د امریکی په پارلمان یا کانگرس کی په ښکاره ډول سره د ملیشیایی ډلو د حقونو د ساتلو ملاتړ کیږی . څو کاله د مخه یو سپین پوټکی امریکایی چی David نومیده او امریکایی ټولنیز ژوند یی نه خوښیده او په ښکاره ډول سره یی ویل چی د امریکی ټولنه د فساد او فتنی سره مخامخ شویده د تکزاس په ایالت کی په بغاوت لاس پوري کړ. ده وویل چی د ښځو په لوڅو اندامونو باندی سوداگری روانه ده ، هلکان د هلکانو او ښځی د ښځو سره جنسی نژدیوالی، وصلت او ودونه کوی او لویان د ماشومانو سره شهوانی او جنسی اړیکی تر سره کوی. ده دا خبره په ډاگه سره کوله چی په امریکی کی اخلاقی معیارونه د مادیت تر سیوری لاندی راغلی دی او د انسان ارزښت تر پښو لاندی شوی دی ده یو شمیر پیروان پر ځان راټول کړل او هغو ته یی خپل تبلیغ په پټ او ښکاره ډول سره سرته رساوه .

دی پر خپلو تبلیغاتو او وعظونو کی دومره په مخ ولاړ چی د پیغمبری دعوی یی وکړه او وی ویل چی دی د حضرت مسیح «ع» استازی او دایی دنده او مسؤلیت دی چی د امریکی ټولنه په لومړی سر کی او بیا ټوله نړی د اخلاقی او مادی بحران او فتنی څخه وژغوری. دی په دی پوهیده چی داسی یو وخت به راشي چی د امریکی دواکدارانو یا قانونی مقاماتو لخوا به دده تبلیغات او کړه وړه ودرول شی. ده په ښکاره ډول سره ډیره پر مخ تللی وسله وپیرود له او خپل ټول پلویان او پیروان یی پری سنبال او تجهیز کړل او خپل گدامونه یی هم تری ډک کړل. کله چی امریکایی چارواکو له ده څخه پوښتنی پیل کړی او دی یی د عدالت محکمی ته وروغوښت ، ده او دده ملگرو او پلویانو چی څه کم سلو تنو ته رسیدل د خیرو او مرکو څخه ډډه وکړه بلکی پر ځای یی په پوځي مقاومت لاس پوری کړ . د امریکی ټولو خلکو او نړی د تلویزیون له څپو څخه ولیدل چی دده تر مشری لاندی دده ملگرو څو اوونی پر له پسی د امریکی د FBI د پوځونو سره مخامخ جگړه وکړه . په پای کی د FBI د پوځونو لخوا د دوی د وسلو گدامونو ته اور واچول شو او د وسلو ټولی زیرمی یی ورو چاودولی د چاودنو په نتیجه کی دی او دده ټول پلویان او ملگری چی ښځی او ماشومان هم په کی و مړه او له منځه ولاړل

له دی پیښی وروسته د امریکی په یوه بل ایالت کی چی د Otahama په نامه یادیږی یو بل سپین پوټکی أمریکایی چی Timothy j. نومیږی او د امریکی په پوځونو کی یی خدمت هم کړی و او په کال ١٩٩٥ کی یی د امریکی د لښکرو سره یو ځای د عراق په جگړه کی گډون درلود او د ښه خدمت له امله یی د ستاینی یو مډال تر لاسه کړی و د خپل دولت د کړو وړو په ضد په کال ١٩٩٥ کی راپورته شو. ده او دده دوو نورو ملگرو د فدرالی دولت یوه ودانی چی هلته د فدرالی دولت قضایی محکمی او نور دفترونه ځای په ځای شوی وو او اتلس پوړیزه ودانی وه د بمونو په چاودلو سره په هوا والوزوله او ١٦٨ تنه بی وزلی نارینه او ښځینه مامورین پکی مړه او له منځه ولاړل. د امریکایی چارواکو د ډیرو هلو ځلو په نتیجه کی دی ونیول شو او دده محکمه تر اوسه پوری هم پای ته نه ده رسیدلی خو ویل کیږی چی عمری بند به پری راشی. دی اوس هم په زندان کی دی.

ده ددی لپاره بغاوت او سر غړونه وکړه او خپله کړکه یی د خپل دولت چارواکو ته ورونښودله چی دی یو تبعیض طلبه انسان دی. دی په ښکاره ډول سره وایی چی سپین پوستي امریکایان د باداری لپاره پیدا شوی او باید حقونه یی د امریکی د ولس د نورو پرگنو څخه لکه تور پوستی او هسپانوی نژاده خلک، لوړوی او ډیرو امتیازونو او گټو خاوندان وی.

دا دوه پورتنی مثالونه ددی لپاره دلته وځیړل شول چی گرانو لوستونکو ته وښودله شی چی د امریکی د ټولنیز ژوند په ورځنیو پیښو کی تروریزم او اخلاقی انحرافات څومره ژوره اغیزه لری دا هم باید ووبل شی چی د امریکی چارواکی هره گړی او هره ورځ دداسی پیښو سره لاس او گریوان دی.

د امریکی چارواکی او پالیسی جوړونکی که د اسلام د سپیڅلی دین سره دښمنی نلری او واقعیتونه ښه درک او وڅیړی د افغانستان په برخه کی باید د افغانستان د اسلامی امارت ټولی کارنامی چی د تروریزم او هم اخلاقی انحرافاتو او ټولنیز فساد او فتنی سره مقابله ده وستایی او دا چی اسلامی امارت په دی بریالی شوی چی درنه وسله د ظالمو قوماندانانو څخه ټوله کړی او امنیت په ټوله کی خوندی کړی نو باید په درنه سترگه ورته وگوری. د درنی وسلی ټولول نه یوازی دنه په افغانستان کی د امنیت او سولی د ټینگیدو سره مرسته کوی بلکی په سیمه کی د جگړو مخه نیسی.

د وسلی ټولول په حقیقت کی د انفرادی او ټولنیز تروریزم سره مقابله ده او د تروریزم مخنیوی بلل کیږی . تروریزم یوازی دا نده چی یو شمیر ناراضه خلک یا هغه کسان چی روحی تکلیفونه او ناروغتیا لری د خپل دولت دقانونی مقاماتو پر ضد راپورته کیږی او د وسلی په استعمال سره خپل هدفونه تر لاسه کوی او د دولت او رسمی مقاماتو گټوته - په ملی سویه او یا په نړیواله توگه زیان رسوی کله چی په پوځی ، اقتصادی او سیاسی لحاظ ستر او غښتلی هیوادو نه د خپلو نامشروع سیاسی او ستراتیژیکو گټو او هدفونو د لاس ته راوړلو لپاره پر ورو او وروسته پاتی مگر خپلواکو هیوادو پوځی یرغل وکړی او یا د توغندیو په ویشتلو د نورو کوچنیو هیوادو خپلواکی او ملی حاکمیت او واکمنی ته زیان ورسوی دا هم تروریزم بلل کیږی او دی ته دولتی تروریزم وایی . لکه چی مخکی وویل شول په خواشینی سره باید ووایم چی ملگرو ملتونو اوس خپل نړیوال اعتبار له لاسه ورکړی دی او دا ځکه چی د سترو هیوادو لاس پوځی شوی دی. که چیری د ملگرو ملتونو موسسی کولای شوای چی نړیوال عدالت رامنځ ته کړی نو خامخا به یی په ښکاره ډول د روسیی پوځی یرغل پر افغانستان او هم د امریکی د کروز توغندیو توغول د افغانستان په خاوره غندلی وای او دا هیوادونه به یی مجبوره کړی وای چی د جنگ او وینی تویولو او اقتصادی زیانونو تاوان د افغانستان خلکو او واکمنی ته ورکړی. د ټولو نړیوالو حقوقی بنسټونو په رڼا کي د روسی یرغل په ١٩٧٩ کی او هم د ننني روسیی د پنځه ویشت زرو پوځیانو ځای پر ځای کیدل د افغانستان شمالی پولو ته نژدی د تاجکستان (کولاب) په خاوره کی او هم د امریکی د کروز توغندیو برید او گذارونه د خپلواک افغانستان پر حریم او خاوری باندی یو ښکاره دولتی تروریزم بلل کیږی . مگر په خواشینی سره **باید وویل شی چی د ملگرو ملتونو او د نوری نړی د هیوادو سترگی ړندی او غوږونه یی کانه دی. یا دا - چی نه ملگری ملتونه او نه خپلواکه نړی دا توان لری چی د غښتلو او سترو هیوادو په مقابل کی د حقیقت څرگندونی وکړی.**

پاتي لري

نامه وارده
راغلی لیک

به اداره محترم هفته نامه شریعت !

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

امیدواریم نامه ذیل را که حاوی مشکلات برق میباشد در هفته نامه وزین شریعت به نشر بسپارید و ازین راه عرض ما را به گوش مسؤولین وزارت اب و برق برسانید :

دو پایه ترانسفارمر ساحه چمندی چار قلعه وزیر آباد که یکی آن از مدت دو سال بدین سو جهت ترمیم به ورکشاپ انتقال شده بود ، تا حال ترمیم نگردیده است، بعداً دو پایه ترانسفارمر که یکی آن ٦٠٠ و دیگر آن ٤٠٠ کیلو وات بود در ساحه فعالیت داشت و مشکل مردم هم که تقریباً به یک هزار فامیل میرسند صد در صد حل شده بود اما نظر به هدایت مقام وزارت آب و برق این دو پایه ترانسفارمر به جایی دیگری منتقل شد و در عوض یک ترانسفارمر ١٠٠٠ کیلو واته مستعمل دیگر نصب گردید که متاسفانه بعد از مدت خیلی کم از کار باز ماند و بالاخره جهت ترمیم به ورکشاپ وزارت منتقل شد اکنون مدت سه ماه میشود که از ترمیم ترانسفارمر خبری نیست، اهالی منطقه از وضع خیلی به تکلیف و هر روزه پشت دروازه های مسولین به انتظار فیصله درین مورد ایستاده میباشند. چون از طرف وزارت به مناطقی که اصلاً هیچ کیبل و ترانسفارمر نداشتند اقدام شده ولی ما که همه وسایل را داشتیم فقط برای ترمیم جزوی ترانسفارمر چنین مشکلاتی را متحمل شده ایم امیدواریم مسوولین محترم در مورد غور نموده در حل مشکلات با ما همکاری نمایند.

برادران محترم هر یک عبدالرحمن، عصمت اله ، محمد عزیز و محمد امین اینک نامه ارسالی تان را در این شماره نشر نمودیم، خدا کند مسوولین در رابطه توجه نموده و مشکلات تان حل گردد.

اداره

* * * * * * * * * * * * * *

د شریعت اوونیزی اداري ته !

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته

د لوی خدای نه مو د خپلو هیوادوالو د لا بیداری ، هڅولو او نیکی ته را بللو په لاره کی بریالیتوب غواړم پس له سلامه هیله ده زما دا څو کرښی چی د هیواد د مطبوعاتو او خپرونو په هکله دی تکی په تکی خپری کړی :

څو ورځی مخکی چی د جمعی مبارکه ورځ وه او د لسانځه نه وروسته د خلکو په یوه لویه گڼه گوڼه کی زه هم د پل خشتی د جوماټ له وره سره ولاړ وم، که گورم چی یو کس د «شریعت» اوونیزې د یو لوی بنډل سره په وره کی ولاړ دی، هر چاته یی ننگوی او وایی: « روزنامه شریعت تازه از چاپ بر امده »!!!

زه هم له دی کبله چی هیڅ هم نه ورکتل لږ نور هم په ننداره شوم او یوه ښه شیبه ورته ودریدلم تر څو چی ټول خلک بهر ووتل او ورځپانه خرڅوونکی غریب هم بیرته ولاړ ډیر خپه شوم چی ولی مو هیوادوال له خپلو مطبوعاتو دومره ماړه او یو هم د څه مطالعی مینه نه لری ؟ خو وروسته می دا سوال په خپله ځواب کړ ، داسی چی ښایی زمونږ مطبوعات به د خلکو د ستونزو په حل کی مرسته نه کوی او هغوی به د خپلو مشکلاتو حل نه پکی گوری په دی اوونیزه کی به همداسی پر له پسی په کلیشه یی ډول هماغه د امارتی چارواکو خبری خپریږی او نور ولس به په همدی خاطر څه د حل او غرض نه ورسره لری، نو که زما دا اټکل سم وی ، ښایی تاسو اخبار چلوونکی دی نیمگړتیا ته متوجه شی او خپلی ورځپانی په داسی یو معیار برابری کړی چی د خلکو د باور وړ وگرځی او پیسی ولگوی خو اخبار لاس ته راوړی او که نو ولی بی ځایه مصرفونه کوی او د امارت په دومره نیستی کی بیا هم بو شمیر پیسی لگوی بریالیتوب مو غواړم

والسلام

ملا عبدالحی د مقر اوسیدونکی

محترم ورور ملا عبدالحی! دا دی ستا د گیلی سره سم چی بوازی د مشرانو خبری خپروی ، دا ځل مو ستا خبری هم تکی په تکی خپری کړی نو خدای دی وکړی چی د گرانو هیوادوالو د ستونزو په کمولو کی به مرسته وکړی .

اداره

پاتي | فعالیت هاي محاکم ولایت ...

میباشند در حالیکه عده از علما و قضات تمیز قندهار نیز با ایشان همراه بودند از دیوان های محکمه مرافعه ولایت فراه ، از بخش های مختلف محکمه شهری آن ولایت و همچنان از محاکم ولسوالی های گلستان ، فراه رود و بکواه ولایت مذکور باز دید و بررسی دقیق و همه جانبه بعمل آوردند . و از تقوا، علمیت و تجربه قضات واز نوعیت حل و فصل دوسیه ها و چگونگی برخورد پرسونل قضایی با مردم معلومات کامل و مفصل را حاصل نمودند و همچنان در جریان بازدید و بررسی یك عده قضات و پرسونل قضایی که اهل شناخته نشدند از وظایف شان بر طرف و عوض آنها علمای جید و صالح مقرر گردیدند و یك سلسله تغییرات و تبدلات نیز در محاکم صورت گرفت ، هیأت موصوف در خلال بررسی محاکم از محابس نیز بازدید نمودند و آنعده محبوسین که مستحق رهایی دانسته شدند از حبس رها گردیدند.

پاتي | د معلم د ورځې په ...

ځلو څخه ډډه نده کړی او د هیواد په سطحه یی په سلگونو مدرسی په ښارونو او ولایتونو کی جوړی کړیدی او تکړه عالمان او مسلمان پوهان د لوست د ورکولو په خاطر په مدرسو کی گومارل شویدی . په پیغام کی هغو نیمگړتیاوو او نواقصو ته چی په تیرو رژیمونو کی د پوهنی په برخه کی موجود و اشاره شویده او ویل شویدی چی په تیرو رژیمونو کی په زرگونو تنه زده کوونکی په بیلا بیلو نومونو له غیر اسلامی فرهنگ او کلتور سره بلد کړای شویدی او ملحد او بی دینه اشخاص د ښوونکو په توگه ټاکل شوی و چی یو شمیر یی په حقیقت کی د کا جی بی گوډاگیان وو او زیاتره مجرب زده سواند او مسلمان استادان په هغه وخت کی ځورول کیدل او د هغوی د اسلامی اندیښنو او د ملی مفکورو ځنډ گرځیدل او د عصری او دینی ښوونی او روزنی تر منځ یی ځنډ پیدا کړی و وروسته د پوهنی وزارت تدریسی معین محترم مولوی عبدالسلام حنفی ددغه وزارت اداری معین محترم مولوی سعید احمد شهید خیل ، ددینی علومو معین محترم مولوی فضل الرحمن حمید او د پوهنی وزارت د ثانوی تدریساتو رئیس محترم مولوی عبدالقهار د اسلام په مبین دین کی د استاد د مقام او منزلت په باب خبری وکړی او ویی ویل د اسلام مبین دین د بشریت ستر لارښود دی څکه د اسلام مقدس دین له ناپوهی او تورتم څخه د خلکو د ژغورنی په خاطر رامنځته شویدی.

په پای کی د سید نور محمد شاه مینی د عالی مدرسی محترم مدیر د مدرسو د استادانو او مدرسینو په نمایندگی وویل : همدا اوس څه د پاسه یو میلیونو شپږ سوه دوه پنځوس زره دری سوه تنه طالب العلمان په څلور زره اووه سوه پنځه اویا مدرسو کی د علم او پوهی په زده کړه بوخت دی.

تیر کال د مدرسو څه د پاسه شپږ زره تنو فارغانو په لوړو تحصیلی موسسو کی د شمولیت په مقصد د کانکور په ازموینه کی گډون کړی و چی دغه شمیر د تیر کال په پرتله د پادونی وړ زیاتوالی ښیی او ددی حقیقت څرگندوی دی چی د افغانستان اسلامی امارت په هیواد کی د ښوونی او روزنی د سطحی د لوړولو په خاطر ارزښتناک اقدامات کړیدی.

پاتي | د تاجکستان د سفیر ...

بل څوک ؟

د تاجکستان حکومت تر اوسه په دی باره کی کومه تبصره نه ده کړی.

ددغه خوار غریب هیواد او روسیی له لاری مخدره مواد اروپا ته لیږل کیږی .

پاتي | محترم فیض احمد ...

کابل کی د افغانستان د اسلامی امارت د بهرنیو چارو وزارت د اطلاعاتو او خپرونو د اداری مسؤول محترم فیض احمد فیض دا خبره رد کړیده چی د افغانستان اسلامی امارت د چیچنیا مبارزینو ته وسلی یا پوځی زده کړی ورکوی هغه وویل چی موږ دچیچنیا جنگیالو سره یوازی اخلاقی مرسته کوو. له بلی خوا د اروپایی هیوادونو د پارلمانونو د شورا رئیس د چیچنیا مشرانو سره ددہ په ملاقات باندی د روسیی انتقاد رد کړی. هغه ویلی دی چی د چیچنیا جمهور رئیس سره یی په تلیفون کی ددی له پاره خبری کړی وی چی د روسیی جنگی بندیان او نور یرغمل راخلاص کړی شی.

پاتي | پر افغانستان د گڼارونو ...

سپکوونکی ده . هغه دا هم وویل : اوس کریملین ته داسی خلک را روان دی چی هم له خپل ولس او هم له ټولو گاونډیانو سره جگړی ته چمتو دی نوموړی د کرملین د ویاند خبری بی واکه وبللی او زیاته یی کړه چی د داسی خبرو واک یوازی پارلمان لرلای شی او بس هغه دا هم وویل چی ډیر داسی چټیات د کریملین د چارواکو د بی پتی لامل گرځیدو نه پرته د بل څه په معنا نشی کیدای .

پاتي | انوار الحق د سیاسي ...

کړی هلته دوی کافی شمیر پلویان لری ستاسی هدف له دی پلویانو څخه څوک دی یعنی د پخوانی کمونیست گوند پلویان او که نور څوک ښاغلی احدی وویل : روسان اوس له قوماندان مسعود سره نږدی اړیکی لری او له ٩٥،٩٤ کال راهیسی کله چی د افغانستان واک د ربانی او احمد شاه پلاس کی وه د روسانو او دوی ترمنځ علایق ښه گرم وو . د مخالفی جبهی ټول غږی د روسانو له ځانگړی کومک نه برخمن دی چی د هغوی په منځ کی دوستم هم د روسانو او هم د ازبکستان د حکومت له خوا په زیاته پیمانه په پوځی مرستو اکمالیږی.

بقیه | درملاقات سفراي ...

رئیس جمهور روسیه به ترکمنستان اشاره نموده گفت : درین سفر موضوعات اقتصادی و مسایل افغانستان مورد بحث قرار گرفته و جانب جمهوری ترکمنستان حقایق و واقعیت هاي موجود به افغانستان را در جریان مذاکرات توضیح و بیان داشته و ترکمنستان بی طرفی خود را در مسایل افغانستان حفظ کرده و بر آن تاکید ورزیده است

همچنان محترم مولوی سید محمد حقانی سفیر ا.ا.ا در پاکستان در ملاقات با محترم عوض محمد حسن سفیر سودان در اسلام آباد روی موضوعات طرف علاقه دو کشور بحث و تبادل نظر نموده و ابراز علاقمندی گردیده است که مناسبات دوستانه و عنعنوی میان مردمان دو کشور توسعه و گسترش یابد.

سفیر امارت اسلامی در جریان ملاقات در مورد وضع جاری افغانستان که از ثبات مطمئن برخوردار است روشنی انداخته گفت : در ساحات تحت حاکمیت ا.ا.ا قوانین شرعی نافذ بوده و امنیت کامل برقرار میباشد. همچنان سفیر کشور سودان مقیم اسلام آباد در روشنایی نتایج مذاکرات جده قرار گرفته و مشکلات مردم حوزه جنوب غرب و سایر مناطق دیگر افغانستان که از اثرات خشکسالی متضرر گردیده است برایشان تشریح و واضح گردید.

بقیه | دور اول مسابقات ...

افغانی (تیم کابل الف کمیته ملی المپیك) در حالی صورت گرفت که بیشتر از ١٥ هزار تماشاچی این مسابقه را استقبال مینمود. نتیجه مسابقه ٣ مقابل صفر به نفع تیم کابل الف انجام یافت.

محترم عبدالخالق یکتن از اعضای تیم «مسلم کویته» نظرش را در ارتباط به ورزشکاران افغان بعد از ختم مسابقه به خبرنگار ما چنین ابراز نمود : استعداد ورزشکاران افغانی قابل قدر است آنها با امکانات کم خیلی ها موفق هستند و خوب ورزش میکنند. اگر کمیته جهانی المپیك ورزشکاران افغان را تشویق و مساعدت نماید فکر میکنم که هر یك آنان میتوانند در میدان های بین المللی خوب مسابقه بدهند.

عصر امروز چهارشنبه دور دوم این مسابقات در میدان ورزشی ستدیوم ملی کابل دایر میگردد. علاقمندان مطلع باشند.

د گډون بیه له هیواد نه بهر		
ملك	شپږ میاشتنی	کلني
پاکستان	RS200	RS400
دخلیج هیوادونه	SR.150	SR.300
اروپا او امریکا	US$75	US$150

بقیه | فعلاً نفوس کشور ٢٣ ملیون ...

احصائیه مرکزي هیچ موسسه غیر حکومتي و سازمان هاي خیریه بین المللي نمیتوانند که خود سرانه سروي نمایند. لذا احصائیه مرکزي ا.ا.ا از کلیه ادارات امارتي و موسسات خارجي تقاضا مي نماید که منبعد پروگرام هاي احصائیوي خویش را در تفاهم با اداره احصائیه مرکزي ا.ا.ا عیار نموده و در مورد هماهنگ باشند.

زمانیکه از محترم مولوي حسین احمد پرسیده شد : آیا نفوس فعلي کشور را تخمین نموده میتوانید ؟ وي در زمینه چنین اظهار داشت : بلي! احصائیه مرکزي به اساس روش هاي بین المللي در اخیر هر سال نشریه، را بنام «تخمین نفوس کشور» به نشر میرساند، آخرین نتایج سرشماري کشور درین نشریه که تازه اقبال چاپ یافته تذکر رفته است که نفوس کل کشور حدود ٢٣ ملیون نفر مي باشد.

به عنوان آخرین پرسش از محترم مولوي حسین احمد پرسیدم که شهر کابل سال گذشته از جانب احصائیه مرکزي سرشماري گردید گفته میتوانید ارقام بدست امده چه تعداد بوده : هکذا آمار زنان بیوه و اطفال یتیم را درین شهر چه تعداد ارزیابي نمودید ؟ ایشان در جواب گفتند : طي سه ماه سال ١٤٢٠ ق احصائیه مرکزي توانست به کمك مالي ملل متحد سومین سرشماري شهر کابل را انجام بدهد که نفوس شهر کابل (١٧٨٠٠١٢) نفر به تفکیك (١٤٤٧٢) بیوه زنان و (٤٦٤٠٣) اطفال یتیم ثبت گردیده است .

مهربان

پاتي | د بغلان ولایت ...

کتابتون د پرانستلو په مراسمو کی د عامه کتابتونو د اهمیت او اړتیا او د اسلامی فرهنگ او ثقافت د بډاینی په برخه کی د هغو د رول په باب اوږدی خبری وکړی.

ددغه کتابتون پرانستل بی په هیواد کی د فرهنگی او علمی مرکزونو د ودی او پراختیا په خاطر یو اغیزمن او رغنده اقدام وباله. ددغه ولایت د اطلاعاتو او کلتور د رئیس محترم عبدالاحد مجروح په وینا په دغه کتابتون کی دری زره دوه سوه څلور پنځوس ټوکه علمی دینی فرهنگی تاریخي او ادبی کتابونه ترتیب او تنظیم شویدی او د بغلان ولایت کتابتون چی له لسو کلونو راهیسی له فعالیت نه لویدلی و ، د مسؤولینو د پاملرنی له امله بیا فعال او د مطالعی د مینه والو او فرهنگیانو د استفادی وړ وگرځید.

پاتي | د کابل ښار پر بیوزلو...

د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ د کابل ښار په بی وزلو ښاریانو باندی د مرستی په ډول د یوی اندازی غوړیو د ویش بهیر په دی وروستیو وختو کی زموږ د هیواد د یو تن ملی سوداگر محترم الحاج محمد شریف لخوا د شهیدانو او مهاجرینو د چارو وزارت له لاری د کابل ښار په بیلا بیلو ناحیو کی پیل شویدی ددغه وزارت د یو خبر ځای له خولی په تیرو دریو ورځو کی له دغی جملی څخه لس زره شپږ سوه شپیته کیلو گرامه غوړی د کابل ښار په بیلا بیلو ناحیو کی په څه د پاسه پنځه زره اړو کورنیو باندی ویشل شویدی.

ددغو مرستو د ویش لړی روانه ده او ټاکل شویده یوه اندازه نور غوړی سبا د چارشنبی په ورځ په هغو مستحقو کسانو باندی وویشل شی چی نوموړنه یی پخوا د کابل ښار په ٦–٨ او ١٦ مو ناحیو کی لیکل شویدی.

پاتي | د پکتیه اداره په ...

حال کی چی د آی. ای. ام موسسی رئیس هم حاضر و ښاغلی فولتون د خپلو خبرو په ترځ کی د اسلامی امارت د مقاماتو د هر اړخیزو همکاریو له امله مننه څرگنده کړه او وی ویل د پکتیک اداره له دوو کلونو راپدیخوا د آی.ای.ام موسسی له لاری د افغانستان له اړو خلکو سره خپلو بشری مرستو ته دوام ورکوی او دغه راز د هغو نورو انجوگانو د پرسونل په لیږدونه کی یی هر اړخیزه همکاری کړی چی په افغانستان کی فعالیت کوی.

ده زیاته کړه دغه اداره د ملکی هوایی چلند او توریزم له وزارت سره هم د روزنیزو پروگرامونو په پرمخ بیولو کی هر اړخیزه همکاری کوی . او ددی غوښتنه کوی چی د یوه خپلواکی انجو په توگه په افغانستان کی خپل کار او فعالیت پیل کړی وروسته د بهرنیو چارو وزارت محترم معین ددغی موسسی د همکاریو له امله قدردانی وکړه او وی ویل : د افغانستان اسلامی امارت ددی غوښتنه کوی چی ددغی اداری فعالیت پراختیا ومومی، چی د افغانستان له خلکو سره د مرستی او همکاری په زمینه برابره شی.

پاتي | د سرپل په ولایت ...

ولایت نه د باختر اطلاعاتی آژانس خبر راکړ د اوبو د برېښنا د تولید دستگاه د جوړلو کار چی د سرپل ولایت د اوبو او برېښنا ریاست د انجنیرانو او فنی پرسونل لخوا د سرپل ولایت د مرکز آسیا اباد او زحمت اباد د کلیو د خلکو په همکاری ورمه ورځ پیل شوه ، ٧٥ کیلو واټو برېښنا د تولید ظرفیت لری چی ددغی پروژی په بشپړیدو سره د سرپل ولایت په مرکز کی د برېښنا د انرژی له پلوه د سل گونو کورنیو او امارتی ادارو مشکلات له منځه ځی. ددغی دستگاه د جوړولو د کار د پیل په مراسمو کی د سرپل ولایت مرستیال محترم ملا محمد ادم د اسلامی امارت د عمرانی او پرمختیا یی پروگرامونو او د ټول گټو یا عام المنفعه پروژو په بشپړولو کی د خلکو د همکاری او فعالی ونډی اخیستنی په باب اوږدی خبری وکړی او په دی برخه کی یی د خلکو د لازیاتو همکاریو غوښتنه وکړه .

SHARIAT WEEKLY
Published by :
Islamic Emirat of Afghanistan
Chief Editor: Abdurrahim Saqeb
Printed by: Emirat Printing Press